# اقتصادمحوره او متوازن بهرنی سیاست

په افغانستان کې د اشغال پای او اسلامي نظام له قیام وروسته، د ګڼو نورو برخو په څېر په بهرني سیاست کې هم د دې اړتیا ولیدل شوه، چې د نوو واقعیتونو په پام کې نیولو سره د افغانستان اسلامي امارت بهرنی سیاست بیا تعریف شي.

له همدې امله په تېرو دریو کلونو کې زموږ بهرنی سیاست کې د نورو اړخونو ترڅنګ توازن او اقتصادمحورۍ د دوو اساسي ستنو په توګه وګڼل شول. دغه دوه اړخونه په لنډ ډول تر بحث لاندې نیول کېږي:

**متوازن**

افغانستان د تاریخ په اوږدو کې د خپل ځانګړي جیوپولیټیک موقعیت له امله د سترو هېوادونو له رقابتونو او سیالیو څخه په منفي ډول متاثر و. یو تحلیل دا دی چې د افغانستان په بهرني سیاست کې د توازن (د سړې جګړې وخت د افغانستان سیاست متوازن و؟) له متاثره کېدو سره، زموږ هېواد د اوږدو کلونو لپاره له بهرنیو یرغلونو، کورنیو جګړو او بې‌ثباتیو سره مخ و. د افغانستان په څه باندې څلورو لسیزو ناورین کې بنایي بېلابېلو لاملونو رول لرلی وي، مګر د بهرني سیاست له اغېزو هم سترګې نه شي پټېدای.

**د افغانستان اسلامي امارت په بهرني سیاست کې «متوازن» په دې مفهوم کارول کېږي چې افغانستان ټولو هېوادونو سره د خپلو ارزښتونو په رڼا کې د مشترکو ګټو پر بنسټ فعال تعامل کوي.** د سړې جګړې پرمهال د «ناپیلتوب» یا «عدم انسلاک» اصطلاحات کارول کېدل چې د هغه وخت د وضعیت بیانوونکي وو. اوس چې نړیوال سیاست د څوارخیزتوب پر لور چټک ګامونه اخلي، د افغانستان اسلامي امارت دغه راټوکېدونکی څوارخیزتوب یو فرصت ګڼي او ټولو لوریو سره په تعامل کې متوازن بهرني سیاست ته لومړیتوب ورکوي.

متوازن د غیرفعالیت په معنا هم نه دی. له متوازن سیاست څخه فهم دا دی، چې افغانستان به ټولو سترو او سیمه‌ییزو ځواکونو سره، بې له دې چې د هغوی ترمنځ ټکرونه په پام کې ونیسي یا د یو لوري طرف ونیسي، د خپلو دیني او ملي ګټو او د هغوی د مشروع ګټو په نظر کې نیولو سره تعامل کوي.

**اقتصادمحوري**

د افغانستان اسلامي امارت د بهرني سیاست بله اساسي ځانګړنه پر اقتصادي همکاریو ولاړ سیاست دی، چې هدف ترې د افغانستان د جغرافي په کارولو سره په سیمه کې افغانستان د اقتصادي اتصال او ټرانزیټ په مرکز بدلول دي.

له اقتصادمحوره سیاست موخه دا ده، چې د افغانستان ژیواېکانومیک څخه د افغانستان د اقتصادي احیا لپاره داسې ګټه پورته شي چې د افغانستان او سیمې د هېوادونو اقتصادي ګټې یو بل سره پیوند شي. دا به نه یوازې دا چې د افغانستان اقتصادي ګټې خوندي کړي، بلکې د افغانستان د ملي ثبات له لا زیات ټینګښت سره به هم مرسته وکړي.

افغانستان چې د منځنۍ او سویلي اسیا هېوادونو ترمنځ د دروازې حیثیت لري، د خپل اقتصادمحوره سیاست پر مټ غواړي چې سیمه‌ییز اتصال کې خپل محوري رول ولوبوي.

په افغانستان کې د اشغال له پای او د اسلامي امارت له تاریخي بریا وروسته چې امنیت او ثبات تضمین شوی، د سیمې هېوادونو ته یې د دې فرصت برابر کړي چې د افغانستان له لارې د ټرانزیټ، انرژۍ انتقال او نښلوونکو لارې پر مټ د ټولې سیمې د اقتصادي راپورته کولو په برخه کې رول ولوبوي.

دغه بحث ته په پام، اوس لیدل کېږي چې د افغانستان په خاوره کې د تاپي نل‌لیکې د غځولو عملي چارې د پیل په درشل کې دی. همدارازد ټاپ پروژه، چې د ترکمنستان برښنا د افغانستان له لارې پاکستان ته لېږدوي کار پیل شي. ازبکستان هڅه کوي چې د افغان ټرانس وسپنې پټلۍ لیکه، چې د افغانستان مزارشریف ښار له پېښور سره وصلوي ورغول شي. د کاسا ۱۰۰۰ پروژه، چې د قرغزستان برښنا د افغانستان له لارې پاکستان ته لېږدوي کار روان دی.

د اقتصادمحوره بهرني سیاست بل اساسي اړخ افغانستان کې د بهرنۍ پانګونې د جلب په موخه د اسانتیاوو برابرول دي. په همدې موخه د ریاست الوزرا د اقتصادي معاونیت تر سیوري لاندې د بهرنۍ پانګونې لپاره د پروسو اسانولو او چټکولو په موخه د پانګونې د جذب بین‌الوزارتي کمېټه کار کوي.

د بهرنۍ پانګونې په برخه کې د لوګر مس عینک کان کې د چینایي پانګوالو له لوري د چارو عملي پیل د بېلګې په توګه یادېدلای شي. همداراز په شمال کې د اموردیا نفتي حوزه کې د چینایي شرکت لخوا د تیلو د استخراج پیل چې داسې هیلې یې ټوکولې دي چې زموږ د تېلو ملي اړتیا تر زیاتې برخې خودکفا کړي. دې ته ورته په نورو برخو کې هم د حکومت سیاست د بهرنۍ پانګونې د جذب لپاره د اسانتیاوو برابرول دي.